د یوحنا رسول اول خط

پیژندګلو

د آسیه په صوبه کښې جماعتونو ته درې خطونه ولیکلے شُو یعنې په هغه ځائ کښې چې نن سبا تُرکی بللے شی. دا خطونه د دې دپاره لیکلے شوی وُو چې ایماندارانو له حوصله ورکړی او په خپل ایمان کښې مضبوط پاتې شی. نن سبا مونږ ته دا کارونه ډېر ښۀ څرګند دی او هم په دې خبره تاکید کوی چې کامله عقیده، عمل او مینه په کار ده. نو کله چې دا ټول بنیادی کارونه په مونږ کښې د رښتینی ایمان سره موجود وی نو بیا به مونږ مقدس ژوند حاصل کړُو او دا به زمونږ د خلاصون ضمانت وی. نو زمونږ یقین او باور به په هغه وخت کښې په دې خبرو پوره پوخ شی. نو چې کله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ بې‌لالچه په حضرت عیسیٰ مسیح کښې لکه د وروڼو او خویندو یو بل سره مینه کوُو نو د خپل قوم او مال دولت او ذاتی ګټی پسې نۀ ګرځو. د حفظ کولو دپاره ۱ یوحنا ۱:۹ آیت ”خو کۀ مونږ د خپلو ګناهونو اِقرار وکړُو نو هغه چې وفادار او صادق دے، هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړی او مونږ به د هر قِسمه بدو نه پاک کړی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ژوندون کلام

۱ مونږ تاسو ته د هغه کلام په حقله بیان وکړو کوم چې د ازل
نه موجود وو، کوم چې مونږ واورېدو او په خپلو سترګو مو ولیدلو.
مونږ یې ننداره وکړه او خپل لاسونه مو ورسره ولګول. هغه د ژوندون
کلام دے. ۲ دا ژوندون مونږ ته ښکاره کړے شوے وو او مونږ
هغه لیدلے دے، او مونږ یې ګواهی کوُو او تاسو ته وایو چې هغه
هغه څوک دے چې خپله د تل ژوندون دے. هغه پلار سره وو او بیا
مونږ ته ظاهر شو. ۳ څۀ چې مونږ لیدلی او اورېدلی دی، مونږ هغه
تاسو ته بیانوو د دې دپاره چې تاسو مونږ سره په کښې شریک شئ
او په رښتیا مونږ د پلار او د هغۀ د زوئ عیسیٰ مسیح سره شراکت
وساتو. ۴ مونږ دا څیزونه ځکه لیکُو چې زمونږ خوشحالی پوره شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په نُور کښې ژوند تېرول

۵ دا هغه پېغام دے چې مونږ د مسیح نه واورېدلو او تاسو ته
يې معلومات درکوو چې خُدائ پاک نُور دے او په هغۀ کښې هيڅ
تيارۀ نشته. ۶ کۀ مونږ دا وايو چې هغۀ سره شراکت ساتو او په
تيارو کښې ګرځو نو مونږ دروغژن يُو او په هغې عمل نۀ کوُو څۀ
چې رښتيا دی. ۷ خو کۀ مونږ په نُور کښې ژوند کوُو لکه څنګه
چې هغه په خپله په نُور کښې دے نو بيا مونږ په خپلو کښې
شراکت ساتو، او د هغۀ د زوئ عيسیٰ وينه مونږ د هر يو ګناه نه
پاکوی. ۸ کۀ چرې مونږ دا وايو چې بې ګناه يُو نو په دې مونږ خپل
ځان له دوکه ورکوو او په مونږ کښې رښتيا نشته. ۹ خو کۀ مونږ د
خپلو ګناهونو اِقرار وکړُو نو هغه چې وفادار او صادق دے، هغه به
زمونږ ګناهونه معاف کړی او مونږ به د هر قِسمه بدو نه پاک کړی.
۱۰ کۀ چرې مونږ دا وايو چې مونږ هيڅ ګناه نۀ ده کړې نو مونږ
خُدائ پاک دروغژن کوُو او د هغۀ کلام په مونږ کښې نشته.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حضرت عیسیٰ مسیح زمونږ شفاعت کوونکے دے

۱ زما ګرانو بچو، د دغو خبرو د لیکلو نه زما مطلب دا دے
چې تاسو ګناه ونۀ کړئ، خو کۀ څوک ګناه وکړی نو د پلار سره
زمونږ یو شفاعت کوونکے دے، یعنې عیسیٰ مسیح چې صادق
دے. ۲ او هغه زمونږ د ګناهونو کفاره دے، او هغه نۀ یواځې زمونږ
د ګناهونو بلکې د ټولې دُنیا د ګناهونو کفاره هم دے. ۳ کۀ مونږ
د هغۀ په حکمونو عمل کوُو نو دا د دې خبرې ثبوت دے چې مونږ
هغه پېژنو. ۴ کۀ څوک وائی چې، ”زۀ یې پېژنم،“ خو بیا هم د
هغۀ په حُکمونو عمل نۀ کوی نو هغه دروغژن دے او په داسې کس
کښې رښتیا نۀ وی. ۵ خو څوک چې د هغۀ په کلام عمل کوی
نو په دغه کس کښې د خُدائ پاک مینه کامله شوې ده. نو مونږ بیا
په دې پوهیږو چې په رښتیا په هغۀ کښې اوسیږو. ۶ هر څوک چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وائی چې، ”زۀ په هغۀ کښې اوسېږم،“ نو په کار دی چې هغه دې داسې ژوند تېروی لکه څنګه چې مسیح تېر کړے وو.

یو نوے حُکم

۷ ګرانو دوستانو، زۀ تاسو ته څۀ نوے حُکم نۀ لیکم، بلکې دا هغه زوړ حُکم دے چې د شروع نه تاسو سره دے. دا زوړ حُکم هغه کلام دے کوم چې تاسو د مخکښې نه اورېدلے دے. ۸ نو بیا هم زۀ تاسو ته یو نوے حُکم لیکم چې هغه په رښتیا د مسیح او ستاسو په ژوندون لیدلے کیږی ځکه چې تیارۀ ختمیږی او رښتینے نُور اوس هم ځلیږی. ۹ کۀ څوک دا دعویٰ کوی چې، ”زۀ په نُور کښې یم،“ او هغه د خپل ورور یا خور نه نفرت کوی نو هغه اوس هم هغه شان په تیارۀ کښې دے. ۱۰ هر څوک چې د خپل ورور یا خور سره مینه کوی، هغه په نُور کښې ژوند تېروی او داسې کس هیچرې د تیندک سبب نۀ جوړیږی. ۱۱ خو هر څوک چې د خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورور یا خور نه نفرت کوی، هغه په تیارۀ کښې ګرځی بلکې په تیارۀ
کښې ژوند تېروی او هغه نۀ پوهیږی چې چرته روان دے ځکه چې
تیارې د هغۀ سترګې ړندې کړې دی. ۱۲ زما ګرانو بچو، زۀ تاسو ته
لیکم ځکه چې ستاسو ګناهونه د مسیح په نوم معاف کړے شوی
دی. ۱۳ اے مشرانو، زۀ تاسو ته لیکم ځکه چې تاسو هغه پېژنئ
څوک چې ازلی دے. اے ځوانانو، زۀ تاسو ته ځکه لیکم چې تاسو
هغه چا ته څوک چې شریر دے شکست ورکړے دے. ۱۴ اے
بچو، زۀ تاسو ته ځکه لیکم چې تاسو پلار پېژنئ. اے مشرانو، زۀ
تاسو ته ځکه لیکم چې تاسو هغه پېژنئ څوک چې د ازل نه دے.
اے ځوانانو، زۀ تاسو ته ځکه لیکم چې تاسو مضبوط یئ او د
خُدائ پاک کلام په تاسو کښې پاتې کیږی او تاسو په هغۀ څوک
چې شریر دے غالب شوی یئ. ۱۵ د دُنیا او د هغې د څیزونو سره
مینه مۀ کوئ، ځکه چې څوک چې د دُنیا سره مینه کوی، په هغوئ
کښې د پلار مینه نشته. ۱۶ ځکه چې په دُنیا کښې د نفس
خواهش، یا د سترګو شوق، او یا د دولت غرور، دا د پلار د طرفه نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی بلکې دُنیاوی څیزونه دی. ۱۷ دُنیا او د هغې شوق تېرېدونکی
دی، خو څوک چې د خُدائ پاک په مرضیِ عمل کوی هغه به تل
تر تله ژوندے وی.

خردجال

۱۸ زما ګرانو بچو، دا آخری وخت دے. څنګه چې تاسو
اورېدلی دی چې خردجال راتلونکے دے، نو اوس ډېر خردجالان
راپورته شوی دی، او د دې نه مونږ په دې پوهیږو چې دا آخری
وخت دے. ۱۹ هغوئ زمونږ د قبیلې نه ووتل ځکه چې د هغوئ
مونږ سره په رښتیا تعلق نۀ وو، نو کۀ چرې هغوئ زمونږ وے نو
هغوئ به مونږ سره تعلق ساتلو. کله چې هغوئ لاړل نو د دې نه دا
ثابته شوه چې هغوئ زمونږ نۀ وُو. ۲۰ خو تاسو په روحُ القُدس مسح
کړے شوی یئ او تاسو ټولو ته د حقیقت پته ده. ۲۱ ما درته دا نۀ
دی لیکلی چې ځکه چې تاسو د رښتیاو نه ناخبره یئ بلکې تاسو پرې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبر یئ، او د دروغو د رښتیاو سره څۀ تعلق نشته. ۲۲ دروغژن څوک
دے؟ هغه څوک چې وائی چې عیسیٰ مسیح نۀ دے، نو دا
خردجال دے څوک چې د پلار او زوئ دواړو نه اِنکار کوی. ۲۳
هر څوک چې د زوئ نه اِنکار کوی هغۀ سره پلار هم نشته، او هر
څوک چې د زوئ اِقرار کوی نو هغۀ سره پلار هم شته. ۲۴ تاسو
چې اول نه څۀ اوریدلی دی، هغه په خپلو زړونو کښې وساتئ. او
څۀ چې تاسو د اول نه اوریدلی دی، کۀ هغه تاسو کښې وی نو
تاسو به په خپله هم په زوئ او پلار دواړو کښې پاتې شئ. ۲۵ او
کومه وعده چې هغۀ مونږ سره کړې ده هغه د تل ژوندون دے. ۲۶
زۀ دا خبرې تاسو ته د هغه چا په باب کښې لیکم څوک چې
ستاسو د دوکه کولو کوشش کوی. ۲۷ کوم روحُ القُدس چې تاسو
مسح کړی یئ هم هغه په تاسو کښې اوسی، نو بیا تاسو ته د بل
اُستاذ ضرورت نشته. نو چې روحُ القُدس تاسو ته د هر څۀ په حقله
تعلیم درکوی، او څۀ چې درته هغه ښائی، رښتیا دی، نه چې دروغ،
او څنګه تعلیم چې هغۀ درکړے دے په هغۀ کښې پاتې شئ. ۲۸

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوس اے ګرانو بچو، اوس په هغۀ کښې شراکت وساتئ، نو کله
چې هغه ښکاره شی نو مونږ به مطمئن يُو او د هغۀ په راتلو به د
هغۀ په وړاندې شرمنده نۀ يُو. ۲۹ کۀ تاسو ته پته وی چې مسيح
صادق دے نو تاسو به په دې مطمئن شئ چې څوک صداقت کوی
هغه د خُدائ پاک روحانی بچی دی.

۱ تاسو وګورئ چې پلار مونږ ته څومره زياته مينه راکړه چې مونږ
به د خُدائ پاک روحانی بچی بللے شُو، نو مونږ په رښتيا سره هم
دغه شان يُو. او دُنيا چې مونږ نۀ پيژنی هغه ځکه چې هغه يې هم
نۀ دے پيژندلے. ۲ ګرانو دوستانو، مونږ اوس د خُدائ پاک روحانی
بچی يُو خو چې څنګه به يُو هغه لا تر اوسه راته پته نشته، خو مونږ
په دې پوهيږو چې کله عيسیٰ راښکاره شی نو مونږ به د هغۀ په شان
يُو، ځکه چې مونږ به يې هم په هغه شان ووينو څنګه چې هغه
دے. ۳ او هغه ټول چې په مسيح دا اُميد ساتی، نو هغوئ ځانونه
داسې پاک ساتی لکه چې مسيح دے. ۴ هر څوک چې ګناه
کوی، هغه بې‌شرعې کارونه کوی، ګناه خو بې‌شرعې کارونه کول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی. ۵ تاسو ته پته ده چې مسیح ځکه راغلو چې ګناهونه اخوا
کړی، او په هغۀ کښې هیڅ ګناه نشته. ۶ څوک هم چې په مسیح
کښې اوسی، هغه به ګناه نۀ کوی، خو څوک چې په ګناه کښې
لګیا وی، نۀ هغۀ مسیح لیدلے او نۀ یې پېژنی. ۷ زما بچو، څوک
دې هم تاسو دوکه نۀ کړی ځکه چې څوک هم صداقت کوی هغه
صادق دے لکه چې مسیح صادق دے. ۸ خو څوک چې هر
وخت ګناه کوی، هغه د اِبلیس بچے دے ځکه چې اِبلیس د ازل نه
په ګناه کولو کښې آخته دے. او د خُدائ پاک زوئ د دې مقصد
دپاره ظاهر شو چې د اِبلیس کارونه برباد کړی. ۹ خو څوک چې د
خُدائ پاک روحانی بچی دی هغوئ قصداً ګناه نۀ کوی ځکه چې
په هغۀ کښې د خُدائ پاک ذات قائم وی، نو هغه ګناه نۀ کوی
ځکه چې هغه د خُدائ پاک بچے دے. ۱۰ هم دغه د خُدائ
پاک د بچو او د اِبلیس په بچو کښې فرق دے، څوک چې په
صداقت عمل نۀ کوی هغه د خُدائ پاک نه نۀ دے، او نۀ هغه
څوک چې د خپل ورور سره مینه نۀ کوی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یو بل سره مینه کوئ

۱۱ نو دا هغه پیغام دے چې د شروع نه تاسو اوربدلے دے،
هغه دا چې مونږ دې د یو بل سره مینه کوُو. ۱۲ مونږ دې د قائِن په
شان جوړ نۀ شو څوک چې د شریر نه وو او خپل ورور یې قتل کړو.
او هغۀ هغه ولې قتل کړو؟ ځکه چې د هغۀ خپل عمل بد وُو او د
هغۀ د ورور عمل د صداقت وُو. ۱۳ زما وروڼو او خوښدو، په دې
حیرانېږئ مه چې دُنیا تاسو نه نفرت کوی. ۱۴ کۀ چرې مونږ خپلو
ایماندارانو وروڼو او خوښدو سره مینه کوُو، نو د دې نه دا پته لګیږی
چې مونږ د مرګ نه ژوند کښې داخل شوی یُو. خو هغه څوک چې
مینه په کښې نۀ وی هغه لا تر اوسه د مرګ په حالت کښې دے.
۱۵ هر څوک چې د خپل ورور یا خور نه نفرت کوی، قاتل دے، او
تاسو ته پته ده چې قاتلانو کښې د تل ژوندون نۀ وی. ۱۶ په دې
وجه مونږ پوهیږو چې مینه څۀ ده، ځکه چې مسیح زمونږ دپاره خپل
ځان ورکړو. او مونږ ته هم په کار دی چې خپل ځانونه د خپلو وروڼو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره ورکړُو. ۱۷ کۀ د چا سره د دُنیا هر څیز وی او خپل ایماندار
ورور یا خور ضرورتمند وګوری او د خپل زړۀ دروازه هغۀ ته بنده کړی
نو بیا په هغۀ کښې د خُدائ پاک مینه څنګه اوسیږی؟

د خُدائ پاک په مخکښې ډاډ

۱۸ ګرانو بچو، مونږ دې صرف په خوله مینه نۀ کوُو، بلکې په
رښتیا او په عملی طور دې کوُو. ۱۹ نو په هم دې به مونږ پوهه شُو
چې مونږ رښتینی یُو او خپل زړونه به د هغۀ په وړاندې مطمئن ساتو.
۲۰ کله چې زمونږ زړۀ مونږ ملامتوی نو خُدائ پاک زمونږ د زړۀ نه
ډېر لوئ دے او هغه په هر څۀ خبر دے. ۲۱ ګرانو دوستانو، کۀ
زمونږ زړۀ مونږ نۀ ملامتوی نو بیا مونږ د خُدائ پاک په مخکښې پوره
ډاډه یُو. ۲۲ او مونږ چې څۀ هم د هغۀ نه وغواړو هغه یې راکوی،
ځکه چې مونږ د هغۀ په حُکمونو عمل کوُو او په څۀ چې هغه
خوشحالیږی هم هغه کوُو. ۲۳ او دا د هغۀ حُکم دے چې مونږ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغۀ د زوئ عیسیٰ مسیح په نوم ایمان راوړو او د هغۀ د حُکم په
مطابق د یو بل سره مینه کوُو. ۲۴ هغوئ څوک چې د خُدائ پاک
په حُکمونو عمل کوی نو هغوئ په خُدائ پاک کښې اوسیږی او
خُدائ پاک په هغوئ کښې اوسیږی. نو بیا به مونږ څۀ پوهه شُو چې
هغه په مونږ کښې اوسیږی؟ مونږ د هغه روح په وسیله پرې پوهیږو
کوم چې هغۀ مونږ له راکړے دے.

دروغژن نبیان پیژندل

۱ ګرانو دوستانو، په هر چا یقین مۀ کوئ څوک چې دا دعویٰ
کوی چې هغه د خُدائ د روح نه خبرې کوی بلکې تاسو هر یو
کس آزمایئ چې هغه روح د خُدائ پاک د طرفه دے او کۀ نه،
ځکه چې ډېر دروغژن نبیان په دُنیا کښې راپیدا شوی دی. ۲ نو
دغه شان به مونږ په دې پوهه شُو چې کۀ چرې هغوئ سره د خُدائ
پاک روح وی نو چې هغوئ دا اِقرار کوی چې عیسیٰ مسیح په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

انسانی شکل کښې راغلے دے، نو هغه روح د خُدائ پاک د طرفه
دے. ۳ او هر هغه څوک چې د عیسیٰ اِقرار نۀ کوی، نو هغه د
خُدائ پاک د طرفه نۀ دے. نو په داسې کس کښې خردجال روح
دے، د کوم په حقله چې تاسو ته وئیلے شوی دی چې هغه
راتلونکے دے، خو هغه اوس دُنیا ته راغلے هم دے. ۴ خو زما
بچو، تاسو د خُدائ پاک د خاندان نه یئ او تاسو په دې دروغژنو
نبیانو کامیاب شوی یئ، ځکه چې هغه روح چې په تاسو کښې
دے، هغه د هغه روح نه ډېر زورَور دے چې په دُنیا کښې دے.
۵ هغوئ د دُنیا دی نو ځکه دُنیاوی خبرې کوی، نو ځکه دُنیا هم
هغوئ ته توجو ورکوی. ۶ خو مونږ د خُدائ پاک یُو او څوک چې
خُدائ پاک پیژنی هغه زمونږ خبرې اوری، او څوک چې د خُدائ
پاک نۀ دی، هغه زمونږ خبرې نۀ اوری. دغه شان مونږ د حقیقی او
دروغژن روح تر مینځه فرق کولے شُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک مینه دے

۷ ګرانو دوستانو، راځئ چې د یو بل سره مینه وکړُو ځکه چې
مینه د خُدائ پاک د طرفه ده، او هر څوک چې مینه کوی هغه د
خُدائ پاک روحانی بچی دی او خُدائ پاک پیژنی. ۸ خو څوک
چې مینه نۀ کوی هغه خُدائ پاک نۀ پیژنی، ځکه چې خُدائ پاک
مینه دے. ۹ او د خُدائ پاک مینه زمونږ په مینځ کښې داسې
ښکاره شوه چې خُدائ پاک دې دُنیا ته خپل یک یو زوئ راولیږلو
چې مونږ د هغۀ په وسیله ژوندون ولرو. ۱۰ رښتینې مینه په دې
کښې نۀ ده چې مونږ د خُدائ پاک سره مینه وکړه بلکې په دې
کښې ده چې هغۀ مونږ سره مینه وکړه، او زمونږ د ګناهونو د کفارې
دپاره هغۀ خپل زوئ راولیږلو. ۱۱ ګرانو دوستانو، نو چې خُدائ پاک
مونږ سره دومره ډېره مینه وکړه نو بیا مونږ ته هم په کار دی چې د یو
بل سره مینه وکړُو. ۱۲ خُدائ پاک هیچا هم لیدلے نۀ دے، کۀ
مونږ د یو بل سره مینه کوُو نو خُدائ پاک په مونږ کښې اوسیږی او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغۀ مینه په مونږ کښې کامله شوې ده. ۱۳ په دې وجه مونږ ته
پته ده چې مونږ په هغۀ کښې اوسیږو او هغه په مونږ کښې اوسیږی
ځکه چې هغۀ مونږ له خپل روحُ القُدس راکړے دے. ۱۴ او مونږ دا
په خپلو سترګو ولیدل او دا ګواهی ورکوو چې پلار خپل زوئ د دُنیا
د خلاصونکی په طور راولیږلو. ۱۵ څوک چې دا اِقرار کوی چې
عیسیٰ د خُدائ پاک زوئ دے نو خُدائ پاک په هغۀ کښې او هغه
په خُدائ پاک کښې اوسی. ۱۶ نو دغه شان مونږ ته پته ده او په
دې یقین کوُو چې خُدائ پاک مونږ سره مینه کوی. خُدائ پاک
مینه دے او څوک چې په مینه کښې اوسی، هغه په خُدائ پاک
کښې او خُدائ پاک په هغۀ کښې اوسیږی. ۱۷ او په دې طریقه
مینه په مونږ کښې کامله شوې ده د دې دپاره چې د عدالت په ورځ
مونږ زړۀور یُو، نو دا ځکه چې مونږ په دُنیا کښې د عیسیٰ په شان
ژوند تیروو. ۱۸ په مینه کښې هیڅ یره نشته، خو کامله مینه یره اخوا
کوی ځکه چې یره د سزا سره تعلق ساتی. او هر څوک چې یریږی،
په هغۀ کښې مینه کامله شوې نۀ ده. ۱۹ مونږ ځکه مینه کوُو چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک اول مونږ سره مینه وکړه. ۲۰ خو هغه څوک چې دا دعویٰ کوی چې، ”زهٔ د خُدائ پاک سره مینه کوم،“ او د خپل ورور او یا خور نه نفرت کوی نو هغه دروغژن دے، نو ځکه کوم خلق چې وینو او د هغوئ سره مینه نهٔ کوُو نو دا نهٔ شی کېدے چې د نالیدلی خُدائ پاک سره مینه وکړُو. ۲۱ دا حُکم مونږ ته د خُدائ پاک نه راکړے شوے دے، څوک چې د خُدائ پاک سره مینه کوی، نو د خپلو ورونو او خویندو سره دې هم مینه کوی.

په دُنیا غالب کېدل

۱ د چا چې دا ایمان وی چې عیسیٰ هم مسیح دے، هغه د خُدائ پاک روحانی بچے دے. او هر څوک چې د پلار سره مینه کوی هغه د هغهٔ د بچی سره هم مینه کوی. ۲ هم د دې نه مونږ ته پته لګی چې مونږ د خُدائ پاک روحانی بچو سره مینه کوُو، کله چې مونږ خُدائ پاک سره مینه کوُو او د هغهٔ په حکمونو عمل کوُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ ځکه چې د خُدائ پاک مینه دا ده چې مونږ د هغهٔ په حُکمونو
عمل وکړو. او د هغهٔ حُکمونه څهٔ پیتړے نهٔ دے. ۴ ځکه چې د
خُدائ پاک هر یو روحانی بچړے په دُنیا غالب شوے دے. او دا
هغه کامیابی ده کومه چې د ایمان په وسیله مونږ حاصله کړې ده.
۵ هغه څوک دی چې په دُنیا فتح حاصلوی بغیر د هغوئ نه د چا
چې په دې ایمان دے چې عیسیٰ د خُدائ پاک زوئ دے.

د خُدائ پاک د زوئ په حقله ګواهی

۶ عیسیٰ مسیح هغه څوک دے چې د اوبو د بپتسمې او د
وینې توبدلو سره راغلے، او عیسیٰ مسیح یواځې د اوبو سره نه، بلکې
د اوبو او د وینې سره راغلے. او روحُ القُدس د دې خبرې ګواهی
کوی ځکه چې روحُ القُدس حقیقت دے. ۷ نو درې ګواهان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی، ۸ یعنې روحُ القُدس، اوبۀ او وینه، او د درېو واړو یوه خبره
ده. ۹ مونږ د انسان ګواهی قبلوُو خو د خُدائ پاک ګواهی د
انسان په نسبت ډېره ښۀ ده او د خُدائ ګواهی دا ده چې هغۀ د
خپل زوئ تصدیق وکړو. ۱۰ هر څوک چې د خُدائ پاک په زوئ
ایمان ساتی نو په خپلو زړونو کښې دا ګواهی ورکوی. خو هغوئ
څوک چې په دې خبره ایمان نۀ ساتی هغوئ خُدائ پاک دروغژن
ګڼی ځکه چې هغوئ د خُدائ پاک هغه ګواهی نۀ منی کومه
ګواهی چې هغۀ د خپل زوئ په حقله کړې ده. ۱۱ او هغه ګواهی
دا ده چې خُدائ پاک مونږ له د تل ژوندون راکړے دے او دا
ژوندون د هغۀ په زوئ کښې دے. ۱۲ هر چا سره چې زوئ وی
هغۀ سره ژوندون هم وی، او هر چا سره چې د خُدائ پاک زوئ نۀ
وی هغۀ سره ژوندون نۀ وی.

د تل ژوندون پوهه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ زۀ دا څیزونه تاسو ته لیکم د چا چې د خُدائ پاک د زوئ
په نامه ایمان دے، نو چې تاسو په دې پوهه شئ چې تاسو د تل
عُمری ژوندون خاوندان یئ. ۱۴ او په دې زمونږ باور دے چې کۀ
مونږ د هغۀ د مرضی په مطابق د هغۀ نه څۀ وغواړو نو هغه زمونږ
سوالونه اوری. ۱۵ او کۀ مونږ په دې پوهه شو چې خُدائ پاک زمونږ
خواست اوری نو دا راته هم پته ده چې څۀ هم تري غوښتی دی هغه
مونږ ته مِلاو شوی دی. ۱۶ کۀ تاسو خپل ورور یا خور په داسې ګناه
کولو ووینئ چې اَنجام یې مرګ نۀ وی، نو د هغوئ دپاره د خُدائ
پاک نه دُعا وغواړئ او هغه به ورله ژوندون ورکړی. خو داسې ګناه
هم شته چې اَنجام یې مرګ وی او زۀ دا نۀ وایم چې تاسو دې د
هغوئ په حقله دُعا وغواړئ. ۱۷ ټول بد کارونه ګناه ده خو داسې
ګناه هم شته چې اَنجام یې مرګ نۀ وی. ۱۸ مونږ ته پته ده چې
څوک چې د خُدائ روحانی بچی دی هغوئ په ګناه کښې نۀ
اوسیږی، خو هغه څوک چې د خُدائ پاک روحانی بچی دی هغه
په خپله د هغوئ حفاظت کوی او اِبلیس هغوئ ته ورنزدې کېدے نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی. ۱۹ مونږ په دې پوهه یُو چې مونږ د خُدائ پاک بچی یُو، او
ټوله دُنیا د شریر په قبضه کښې پرته ده. ۲۰ او مونږ ته پته ده چې د
خُدائ زوئ راغلے دے او مونږ ته یې دا پوهه راکړه چې مونږ هغه
وپېژنو څوک چې رښتینے دے، او مونږ په هغۂ کښې یُو څوک چې
رښتینے دے یعنې د هغۂ زوئ عیسیٰ مسیح. هغه رښتینے خُدائ
پاک او د تل ژوندون دے. ۲۱ زما کرانو بچو، د بُتانو نه ځان
وساتئ.